# په منظوم فولکلور کښي د ولور غندنه

# Denial expression of Volwoor in Pashtu poetry

Shifa Kakara[1]

ABSTRACT:

Volwoor is a kind of forced marriage in Pashtun society. This paper explains what Volwoor is and what the repercussions of it are. Volwoor is an illegitimate practice in which both men and women are united in a way that does not respect their voices, and they do not have the freedom to express themselves. The man and a woman are forced to unite and live under one roof but are actually separated. Their lives are intertwined under the banner of family oppression and honour.

Key words: Volwoor, forced marriages, Pashtun society

ولور يو داسي ناوړه او نا مشروع رواج دی د کوم په ذريعه چي نارينه او ښځينه دواړه په يوه داسي ازواجي توګه سره يو ځای شي چي په هغه کې د دوی د رايې احترام خو څه کوې چي اظهار يې هم و نه شي بس تش د دوو پلرونو د سوداګری په انداز د بزازۍ په انداز يو هلک او يوه نجلۍ د تل لپاره يو له بل سره دا و تړي چي زړونه يې سره بېل وي ارواحونه يې سره بېل وي خو ژوند يې سره تړلی وي د کورنيو د جبر او د ټولنې د مروج غيرت او عزت تر عنوان لاندې په ګډه د يوې کورنۍ بنسټ کښېږدي چي کور والی يې هم تر عصمت دري/بدلمنۍ په کمه نه وي په داسي اجباري رشتو کې چي د يوې نجلۍ او ښځې روح تر کومو کړاوونو تېرېږي د هغه تصور يو داسي انسان خو بېخي کولای نه شي چي داسي ترخه تجربه او مشاهده يې پخپله نه وي شوې .د دې يوه نامشروع او جابر رواج ولور له وجې چي په وجه يې د يوې جوړۍ هلک او نجلۍ دواړو کوم ارمانونه سوځل کېږي هغه تکليف او کړاو خو دواړو ته رسيږي خو کوم چي پر نجلۍ يواځې تېرېږي لکه په لوی کور کې ودغل له ودغله وروسته بيا د مېړۀ د ټولې کورنۍ خدمتونه کول، د ټول کور کارونه کول، ټوله کورنۍ خوشاله ساتل، پر قدم قدم پېغورونه وړل، د ولور يې زهر شه ښېراوې زغمل، د يو بالښت، کالي، کودي او شي د کم ورکولو په وجه د نجلۍ غوږونه په پېغورو او کږو خبرو خوړل دا هر څه خالي پر نجلۍ تېرېږي د دې ټولو او داسي نورو کړاوونو په غبرګون کې اظهار موږ په منظوم فولکلور کې ليدلای شو او محسوسولای شو .له کوژدنې تر

[1] PhD Scholar, University of Baluchistan

ودغلیه پوري يو اوږد داستان وي له کوژدې تر ودغله يو جلا زمانه وي چي د ولور ګټلو زور تر هلک وزي او له وادهٔ کېدو وروست بيا بل داستان شروع کېږي چي زور يې تر نجلۍ وزي خو هلک هم څه نا څه د کورنۍ ناچاقۍ په سوب سوځي .وادهٔ په بېل بېل رسمونو سره پای ته رسيږي، په کوم کښي چي لومړی مذهبي رسوماتو ته بنيادي حيثيت ورکول شوی دی .له پخواني زماني څخه ونيسي بيا تر جديد دور پوري ډول ډول مذهبي او غير مذهبي ټولنو کښي د وادهٔ رسمونه تر سره کېږي، چي په ښه ډول سرنا، او په جوش و خروش سره يې کوي د پښتنو رواجونه ځای په ځای د نورو قومونو سره ورته دي او کله کله بيا سره بېل وي .

اکثر وختونه په داسي عمل ود شوي نجونه د ورا په ورځ هم په انګيو/چغيان/هووی/متلونو کي د خپلي کړېدلي او سوځېدلي زړهٔ اظهار وکړي کوم چي له مور سره د شفاهي ادب په يوه څورېدلي صنف انګيو کي خوندي دي او مور په کې د يوې مجبورې او مظلومې نجلۍ زړهٔ ليدلای شو.

که چيري فولکلور ته وګورو داسي ډېري پېرزويني يې راپه برخه کړي دي چي زمور د اولسي ادب لمن په درنه ده .د هري دورې يو ګڼ شمېر پيرزويني او احساسات او جذبات يې واقعي مور ته رارسولي دي .په ټولنه کښي د ښځو هغه ګيلي شکوې او ارمانونه چي د دوی په زړهٔ کښي دي بې اختياره د دوی له زړهٔ څخه راڅاخي چي هغه نورو خلکو ته هم زړهٔ ورکوي .

لکه څنګه چي مور په لنډيو کښي ژبه طبقاتي وينو دغه ډول مور په کاکړيو غاړو کښي او په انګۍ کښي هم وينو .د فيوډالي نظام د جبر له کبله ښځي له محرومۍ سره لاس او ګرېوان دي دوی جبري ودونه کوي خو د خپلي مينې راز پټ ساتي .د پښتنو پټ پر ښځو دومره ګران وي چي خپل ځان د ورور او پلار مخکي تسليم کړي .داسي اظهار په دې لنډيو کي هم تر سترګو کېږي.

د پښتنو ناکامه پته

زما پر خولهٔ دي لاس نيوهٔ خواره دي کړمه.

په دې لنډۍ کي مور د يوې نجلۍ هغه قرباني محسوسولای شو کومه چي دا و دې خپل پښتني پت ساتلو ته ورکوي او ټول عمر غلي پاتېږي اکثر وخت نجونه لا پت ساتلو ته قرباني ورکوي او لا يې د خدای رضا و ګڼي او زړهٔ ته داسي تسلي ورکړي چي

مځکي ته ټيټ شه خاورې مچ کړه

لايق مي نه يې پاک الله درکړې يمه

زمونږ ټولنه له ډېرو ناوړو دودونو او رواجونو سره مخامخ ده چي اوس له دې کبله ځان نه شي پر شا کولی که څۀ هم لږ او ډېر بدلون راغلی دی خو رواجو نور هم پر مختګ کړی دی .زمونږ ټولنه کښې تر ټولو ناوړه دود او رواج هم دغه ولور دی چي ښځینه او نارینه دواړه سر ځیني ټکوي . چیري چي پښتانۀ د نس د مړېدو روپۍ نۀ لري هلته یي په سر د ولور دومره لوی پیټي پراته دي چي په پرېکولو کي یي کلونه کلونه ژوند وربادي تېر شي .

مونږ دا رواج ځکه هم پر ځان باندي تپلی دی چي زمونږ نیکۀ ګان ور نیکۀ ګان له هندوانو سره اوسېدلي وو، د ځبرینو آثارو له کبله خو داسي برېښي چي زمونږ اجداد به یو لوی اکثریت پخپله هم هندو مذهبي اوسېدلي وي .په هندو ټولنه کښي نجلۍ ته په جائیداد کښي برخه نۀ ورکېدله، هغو به پسول، کالي او داسي ډېر سامان ورکړلی او خپل ځان به یي خلاص کړی زمونږ ټولنه هم ځکه ولور زیات اخلي چي ډېر خلګ ئي وس نه لري د زوی وادۀ په وکړي نیمی ولور ور ګاروي کله خو هغه هم نۀ ورګاروي .ډېری پلرونه بیا لور ته بنه ډېر کور ورکړي .د ضرورت هر شی ورکړي چي سبا لور ته څوک پیغور ور نۀ کړي .او خسرګنی ځني متاثره وي .

د دغه ناوړه دود په هکله ښځو په فولکلور کښي داسي اظهار کړی او د دې ناوړه دود یي داسي یادګار اظهار کړی دی چي سوونو کلونه پس هم د ټولو پر زړۀ ګوته ږدي او د انسان احساس را پاروي .لکه دا غاړه:

زۀ د کړم د چول مرغی
بابکه !زار د سه روپۍ1 )

په دې غاړه کښي نجلۍ پلار ته فریاد کوي چي زۀ د له سترګو ودره کړم په بتي بېوان کښي د ورکړم زما ژوند ته د نه کتل پر خپلو روپو وي ستا د هم دغه پیسي زهر شي.

په ټپه کښي هم ښځي د ولور د ناوړه دود څخه شین زړې دي :

"د هندوستانه روپۍ راوړه
د کور په روپیو مي پلار کله درکوینه"

"چي ډوډی خورم بابا خښمیږي
چي روپۍ شرنګ کړي بابا شین له خندا سینه 2.

که څۀ هم حق مهر شرعي اصطلاح ده، د نجلی پخپله مقرره وي .او پخپله به یي خوري یعني کوم رقم چي دا په حیثیت د حق مهر پر مېره کښېږدي هغه د دې ملکیت دی .

خو زمونږ په ټولنه کښي دا دواړه بې مقصده دي ولي چي پلار یا وررور" ولور "مقرر کوي او بیا ډېر خوري لږ پر خور او لور د کور او سامان له لارې لګوي اکثر خور او لور درنه هم نه کړي بس د وادهٔ کولو پر ځای یې هسې الوچه/غایبه کړي له سترګو یې وډره کړي د داسي اجباري رواجونو په وړاندې او د دې ناوړه عمل ولور په وجه د غټ اکثریت نجونو ذهنیت همداسي جوړ وي چي ورکوي خو به مي هسې هم په ولور نو پر خپل لالي د ولور برابرولو ږغ هم د فولکور د منظوم اصنافو په ذریه کوي لکه چي وايي

که تهٔ ما کوې هلکه!
روپۍ راوړه یو څو لکه

که پر ما مین ئي ګرانه!
روپۍ راوړه له بېوانه

زهٔ د کم د چول مرغی
بابکه !زار د سه روپۍ3 )

"نس دي ډک سه له انګاره
زهٔ دي چاته ورکړم پلاره!

ارمان دی زما بوري
ستا ولور نهٔ دی راپوري3) "

په دي غاړو کښي له ورایه ښکاري چي واک ټوله د پلار په لاس کښي دی .د ولور ټاکنه د پلار په خولهٔ کېږي او اخستل کېږي مور اختیار نهٔ لري که چیري یوه نجلۍ د میني شریک وټاکي نو که پلار ئي ور نهٔ کړي دغسي بې میني پاته سي بیا د ارمانونو تورو تمبو ته شا وګرځوي، هغه ډول چي هلک او نجلۍ مئین وي نو پلار پر هلک باندي ډېر ولور ږدي، بیا هغه مجبوره وي ورکوي یې خو کله بیا نیمګړې پاته سي .د ولور دغه ناسور څخه چي نجونو او ځوانانو کوم فریاد کړی دی مونږ په دي غاړو کي وینو چي یوازي نجلۍ نه هلک هم سر ټکوي.

زهٔ چي ستا ولور ګټم

بلډوزر به چلوم

زۀ چي ستا ولور ګټم
قاچاقي ايران ته ځم

د کراچۍ ګرمي به وړم
ولور له دې واره ګټم

زۀ يې نه کوم تک تور دی
ادې رټ د پيسو زور دی4

نس د ډک سه له انګاره
زۀ د چا ته ورکړم پلاره5

پلار د غواړي لوی ولور
مرکو نۀ وکړئ اثر

بابک زما پر ځواني نۀ دی
د خپل جېب پر ډکېده دی

خدايه !ډېري کړې روپی
ځوانان زاړه کل پردېسی

خدايه ډېري کړې پيسي
چورياني ګردي سوې زړې6

خدايه !ډېري کړې روپی
مسافر غرق کړو پرديسی

خدایه !ډېري کړې پیسي

هلکان په خلهٔ غواړي کوزدې7

زمونږ په ټولنه کښې یوازې ښځې د ولور اخستلو څخه سر نهٔ ټکوي بلکې ځوانان هم له دې ناوړه دودونو څخه بېزاره دي.

دلته د نجلۍ او هلک دواړو خلاف فیصله کېږي که څوک خوښ وي که نهٔ وي خوښ له مجبورۍ یو بل سره ژوند کوي، د هغو د ارمانونو مانۍ یواځې هغو پخپل زړه کې خوندي کړې دي .هلک دومره کولی سي چې هغه د خپلې خوښۍ اظهار وکړي خو نجلۍ دومره لا نهٔ سي وئیلی چې زما فلانی خوښ دی.

نن هم زمونږ ځوانان له خپله کوره په ژوند ورک دي په پردیسي کښې ژوند تېروي .شپه او ورځ پر ځان یوه کړي چې یو ډول ولور او د کور ژوند برابر کړي .ډېرې نجونه د پلار پر کور زړې شي چې ولور ئې نهٔ ګټل کېږي .

دغه ډول په ودو کې د ولور په اړه ډېرې انتقادي بدلې ویلې دي.

"دا هغه بدلې دي چې د پښتنو ښځمنو له خواه د خپلې ټولنې واړه او لوی بد رواجونه او غلط دودونه پکښې تمثیل شوي دي په دغو انتقادي بدلو کښې د پښتنو هغه ګرد ظلمونه له ناروا رفتارونه چې دوی ئې له خپلو لونو او خوېندو سره کوي مونږ لیدلای سو په انتقادي بدلو کښې د ښځو په خلهٔ هغه حقایق وړاندي شوي دي چې مونږ ئې په هیڅ ډول تردید نهٔ شو کولای .په انتقادي بدلو کښې ښځو د خپل زړهٔ خروښ داسې ایستلی دی چې د نمونې په ډول ځینې دلته وړاندې کوم.

نمر راوخوت په شپاله کې

د خور کړداري نهٔ وو

پلاني .... پېټ سو په پراړه کې

د لور پلاره !ولور مه خوره

په قیامت به غرغره کې

لکه اوښ له درانه باره8

د لور پلاره !په خدای خواره

هر څو چې کردار ورکي

خلاص به نهٔ سي له میاره9

که څهٔ هم پېنتني ښځې د نرواکي ټولني د اجباري حالت له لاسه پټه خولهٔ دي د پلار او نیکهٔ د عزت په خاطر، د تربور ګلوي په خاطر چپ دي خو زړونو کښې يې لا اوس هم هغه دردونه او کړاوونه هغسي ژوندي پراتهٔ دي.
لکه په دغه بابولاله کښې هم دوی د ولور غندنه کړې ده .

"وروره !لاس هی هی لاس کړه په کخوره
اصیل غمی راباسه خور دي ځي ځي د پلار له کوره

موټر ولاړ دی څلور کتاره
پلاني ته داسي وایه خور دي ولاړه

ښه سوې چي تر شنو ونو مو تېره کړه
ابا ئي په پیسو شو لور ئي هېره کړه10

"هم دا وجه ده چي پېنتني بچی او بچیان و ولور ته ډېر د نفرت په سترګو ګوري .لکه یوه نجلی چي مور ئي په حق رسېدلي ده پلار ئي پر سر ښه دروند رقم اخستی دی او بل وادهٔ کول غواړي .
لکه دا انګی

د سپیني خوني پر ورهٔ دودونه
تر خلهٔ مه وزي ساړه اهونه
نهٔ مي ادي سته نهٔ مي سته ورونه
بابک اخستي شنه بنډلونه
د بل وادهٔ دي ویني خوبونه
زهٔ یم روانه خالي لاسونه
نهٔ مي کالي سته نهٔ مي ګوټونه
ټکری د بل دی د بل پیزونه
وړم تر قیامته بي زهٔ پغورونه

تر ودغلي زما ښه زر مرګونه11
سړي نه وي خو خپل کنفونه
سړي غه وي خو خپل کفنونه

دلته چي يوه نجلۍ ورکول کيږي، داسي ټکي ورته ور ځارېږي لکه حيوناتو ته وس ښځو له هم دغه توري استعماليږي .د پلانۍ لور يې خرڅه کړه .لکه د حيوان په سترګه ورته کتل کيږي .لکه په دې انګۍ کښي چي د کشري خور وادۀ دی بله خور ورته وائي زموږ ژړا يو ارزښت نۀ لري موږ خو د مېږو وزو په شان خرڅوي .

خورکۍ مېلمه دي مرګ هوډي سو
نجونه خرڅيږي خسر ئي ..... سو
د خوارو لونو پر ژړا نۀ دي
مندي پلرونه راته مېريزي سو12

اسلام د ښځي دپاره ولور پر مېړه فرض کړی دی .د نوجيت دپاره په خوشحالي سره مېړه د ښځې د ولور حق ادا کوي .او په اسلام کښي تر دې حده پوري اجازه سته چي که په سيمه کښي د نورو ښځو ولورونه زيات وو نو دا دوهمه ښځه به هم تر هغې په کم ولور نه ورکوي او دا ولور  په ټول ښځي ته سپاري دا د دې حق دی چي څرنګه ئې ګاروي هغسي په کار دی وکړي.

د سپيني خوني پر ورۀ ورځي
و بابا خدای دي که دوزخي
خلګ ربړي پېغلي پر کور کښي
بيا ولورونه باندي راړي
زما ليا تګاو  د مور په تي
تا بيا وشلکي وم خيراتي
اوس مو ورور دا عذر کوي
بابي ستاسو کم ولورونه دي
دغه زما حق به پر کمه ځي
پر تا به خبزي پر دې ښي13

یوه نجلۍ چي په کوشنیوالي پلار د) ولور (یعني پیسو په لالچ کښي ارزانه ورکړې ده .چي ودېږي نو ورور هیڅ نۀ ورکوي .وائي ستا ولور خو کم ؤ نو خپل پلار ته ښېرا کوي.

"د اولسي ادب صرف کاکړی غاړو د دې ټولنیزو رویو او دودو په هکله نجونو او ځوانانو ته په خپله لمن کښي د اظهار لپاره ډېر پراخ ځای ورکړی دی.

ارمان دي زما بوري
ستا ولور نۀ دی راپوري

شپه او ورځ خولي خولي
ولور ګټم د ښایستي

دا چي قرآن دی نۀ درځم
ولور له دې وره ګټم14

بابکه !مه د خیزه ارمان
خرڅه د کم لکه حیوان

پېغور به راکئ پر دې جهان
تا پر نوټو راوړی ایمان15

زموږ په ټولنه کښي چي کله یوه نجلۍ وادۀ شي نو که پلار ښه کور ورکړي ښه زیور ور جوړ کړي بیا خو نجلۍ د خسر کور کښي لږ و ډېره قدرمنه هم وي او په راحت هم وي او کله چي پلرونه ولور ځیني وخوري او هیڅ هم ور نۀ کړي بیا په هغې پسي خپل کور سور اور دی لکه دا :

زما بابکه !زړۀ د اېرې سه
زۀ د په ډېرو روپیو ورکړم
کفن د زما په روپیو پرې سه16

که مورې و تاریخ ته نظر واچوو نو ولور تر مختلف دورو راتېر سوی دی.

"لکه د مخه تر تاریخ د دورو چي د انسانانو د وحشت ژوند ؤ هغه وخت دوی په خپلو کښي وادهٔ نهٔ سره کوي او ښځه ئې د بلي قبیلي ښځه غوښته او په خپله سړي به و ښځې ته وادهٔ کېدل .دې دورې ته د مور مشري دوره وائي ځکه عیال ئې د مور قبیلي پوري اړه درلوده او نر به یو طفنلي )یا راز پټ (ؤ .کله چي د پلار مشري دوره پیل سوه په دې دوره کښي به سړی د نجلی د تېر سره قرار داد وکړ چي د کار کولو په بدل کښي نجلی و تېر ته به په نقده کښي څهٔ ورکړه کېدهٔ او دې طرز رواج پیدا کړ چي د هم دغه ځایه ښځه د ولور رواج پیل شوی دی17 . "

خو چي کومه اسلامي طریقه ده نن هم زمورږ خلګ پر هغه عمل نهٔ کوي ځکه اسلام ښځو ته پوره پوره حق ورکړی دی هیڅوک دا حق نهٔ لري که پلار دی که مور وي چي د دې بې خوښي به دا ورکوي ښځه هم په اسلام کښي اجتماعي او اقتصادي استقلال لري د هغې غوښتنه هم د هغې په رضا وي .تر دې چي د هغې نفقه هم پر طریقه ټاکل شوې ده .خو دلته ښځه د اسلام له احکاماتو ناخبره پاته سوې ده .

د سپیني خوني په ورهٔ کي ترم
پښتنو خود به بوغی وهم
زهٔ له بابکه ګیله کوم
نن شني روپی سوم و یې خورم
زما موري ملوکي!
پر تمام جهان ولاړی نوم د کوکی
تا او بابا و چاته ورکم
راښخه هېري سوې زمورږ د غرهٔ ځوکي18 "

ښځې یوازي په غاړه او ټپو کښي له ولور ښځه نهٔ دې په چیغو هغه په انګی کښي هم له دې رواج ښځه بېزاره سوې دي چي پلار ئي په روپی پسي ړوند شي او لور په ولور ورکړي هلته یې ورکړي چي روپی ډېري ورکوي د هغې پر دیسي ته نهٔ ګوري چي تر کومه غرو ئي وډره کړې ده چي ډېرې روپی ورکوي هلته یې ورکړي .بیا دا نهٔ ګوري چي زما لور په کوم حال کښي وخت تېروي ولور دغه دود ټوله نجونه پر ملا غوټې ماتي کړې دي .

د سپیني خوني پر ورهٔ دودونه

تر خلۀ مې وزې ساړه اهونه

نه مه ادې شته او نه مه وروڼه

بابک اخستي شنه بنډلونه

د بل وادۀ دی وینې خوبونه

زۀ یم روانه خالي لاسونه

د ولور له ظالمانه دود چې د زیات رقم په بدل کښې یوه ښه ښایسته نجلۍ پر یوۀ معذوره اتیا کلن سپین ږیري یا یو هېروینې ته ورکړل شي په دې باب هم پښتنه نجلۍ داسې فریادونه کوي19 .
دغه ډول موږ د ښادیو په بدلو کښې هم پښتنې ښځینه خپل ډول ډول انځورونه پکښې لیدلي شو په دغه ترخ کښې چې له پښتنو سره کوم وېرووںکي انځور ولور دی چې د هرې حساس ښځې له خړلې بیانېږې کومه چې له ناروا ظلم ځخه تر پوزې پورې راغلې ده .

خیښني مه وهه ټامباري

که تۀ وهې ټامباري

موږ  شندلي دي کالداري

د لور پلاره !ولور مه خوره

په قیامت به غر غړې کې

لکه اوبښ له درانه باره20

د ولور له ناوړه دود ځخه ښځو د خپل زړۀ خروښ تولله په منظوم فولکلور کښې ایستلی دی ځکه چې کله و نجلۍ ته پلار کور ور نۀ کړي نو هغه د پیغور پیټي پر سر باندي وړي کور کښې یو ځوک په ښه سترګه نه ورته ګوري او نه ور کتل کیږي د هغې ژوند ورسره تریخ شي .په دې کښې قصور هم د ښځو نۀ وي د وي د دې جبري رواجونو وي .نۀ نجلۍ په کور کښې په غټ زړۀ ګرځېدلی شي .

حوالي


1. (کاکړ سیال،)١٩٩۴ ( مخ)١۴۵،اړي اسلامیه پریس  کوټه.1
2. شاهین، سلمی ،)١٩٩۴ (روهي سندرې پښتو اکیډمی پېښاور




Pukhtunkhwa Journal

3. ښځو سره ناسته
4. کاکړ سیال،)۱۹۹۴ ( مخ ۱۴۲،اړي اسلامیه پریس کوټه
5. ایضا مخ ۱۴۲
6. ۱۴۲ ایضا مخ
7. اولسي ښځینه ناسته
8. کاکړ، سیال،)۱۹۷۹ (مخ ۲۹،۳۰ فولکلوري جواهر، پښتو، اکیډمي کوټه
9. ایضا
10.ایضا
11.څلاند ،ابو الخیر) ۴۱۹۹(۲۲۰ دنیمي نړۍ فریاد لومړی توک، قلات پباشرز،کوټه
12.ایضا مخ۲۲۳
13.زیارتواله،ارزو) ۲۰۱۸(مخ ۱۰
14.په پښتنه سیمه کي د انګۍ تنقیدي او تحقیقي جایزه، کوټه
15.خان شاکره،)۲۰۱۸ (مخ ۵۳ کاکړۍ غاړو تهزیبي او کلتوري بني تحقیقي مطالعه ایم فل مقاله پښتو څانګه بلوچستان کوټه.
16.زیارتواله،ارزو) ۲۰۱۸(مخ ۱۰۶،په پښتنه سیمه کي د انګۍ تنقیدي او تحقیقي جایزه، کوټه.
17.)۱۶(
18.د ښځو تاریخ ته یوه کتنه، مخ ۱۱۲
19.کاکړ،سیال) ۱۹۷۸(یا انګۍ، پښتو ادبي بورډ،کوټه
20.رحمت، بی بی،لیکني مجله جنوري،مارچ)۲۰۱۵(مخ ۴۴۲
21. کاکړ،سیال) ۱۹۷۹ (مخ ۷۰فولکلوري جواهر، پښتو، اکیډمي کوټه